مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

عبدالباري جهاني

۲۰۲۰/۰۳/۰۱

# آدم خان او درخانۍ

## دریمه او وروستی برخه

کله چې پیر صالح درخانۍ ته بلنه ورکوی چې د آدم خان د رباب شرنګ ته د باندی راووزي او ناره وربا‌ندي کوي:

د چندنو ونه ګوره
درخانۍ ده په آدم پسی ترهوره
دواړه لاس پر تندی کښیږده
و میدان وته را ووزه ته سرتوره

درخانۍ ته درد ورغی او ناره یې پر وکړه

پیر صالح کله حیلي کله باني که
پر بی بی درخو د بدو اندیښني که
درخو به مخ وربښکاره نه کي
پیرصالح که ږیره غوټه پر منځ پرې که

په دغو کلماتو د پښتنو په هیڅ فوکلوري نکل کی پیر او ملا ته خطاب نه دی سوی. دلته یوازي د آدم د رباب زور دی چې درخانۍ یې لیونی کړې ده او همدغه رباب دی چې د پیر صالح څخه یې ټول روحانی زور اخیستی دی. نه یې دم او چوف تاثیر لري او نه په مجلس کي ناست کسان د دُرخانی په مقابل کي د هغه دفاع کوي.

آدم خان یو زړه ور خان دی او د بل خان سره یې د ښایستي درخانۍ د ترلاسه کولو پرسر مدعا راغلي ده . درخانۍ د پایاو خان په نامه ده. موږ ګورو چې پایاوخان د ټولو پښتني او ټولنیزو اصولو او نرخونو پر اساس پر حقه دی. د خپل یوه سیال خان لوریې غوښتې ده او د نجلۍ پلار هم په خپله خوښه خپله لور ورکړې ده . نکل باید پر دغه ځای ختم سوی وای. مګر اصلی نکل له دغه ځایه څخه پیل کیږی. آدم خان درخانۍ تښتوي او د پایاو خان د ناموس پر حریم باندی ښکاره تیری کوی. پایاو خان په زور ډېر غښتلی دی او دغه علت دی چې آدم خان او د هغه پلار د میرمامي څخه مرسته غواړی. خو پایاوخان یا د رشوت او یا د لښکر په زور درخانۍ بیرته خپلی قلا ته وړی. پښتني اصول خو دا حکم کوی چې پایاوخان باید په هغه شپه درخانۍ وژلې وای، مګر درخانۍ ژوندی پاتیږی. نه یوازي ژوندۍ پاتیږي بلکه لا یې دونه ناز وړل کیږي چې د هغې په غوښتنه له پایو خان سره واده لس ورځې ځنډول کیږي تر څو د درخانۍ له هیلي سره سم آدم خان د حملې کولو فرصت تر لاسه کړي.

آدم خان ته، چې د ټولو پښتني دودونو او نرخونو په خلاف یی عمل کړی دی، هیڅوک هیڅ نه وایی. دا پخپله د پښتنو د خانی او عنعنوي سسټم سپکاوی دی. دا د خانۍ د موسسې او د اولس د عنعناتو او رواج پر حریم او ناموس باندی ښکاره حمله او په پښتني نرخونو ملنډې وهل دی. د ربابیانو خان ټول نرخونه تر پښو لاندي کوي، ټول سرحدات ماتوي او د رباب د تارونو شرنګی د هر ډول زورور پیر او ملا خوله بندوي او دم او چوف یې بې تاثیره کوی.

زما په عقیده د آدم خان او درخانۍ نکل د ربابیانو ایجاد دی. او دا چې زیات و کم درې سوه کاله مخکی د صدرخان خټک په زمانه کی یې په لس هاوو شکلونه درلودلي او له هغې زمانې څخه تر نن پوری به یې حتما شکلونه څو چنده سوی وي یو علت یې دا دی چې د هری سیمی ربابیانو او سندرغاړو د خپل ذوق او کمال سره سم بیل شکل او رنګ ورکړی دی او مجلسونه یې په تاوده کړی دي.

د صوفیانو چشتیه طریقه، چې زیاتره د موزیک او نڅا سره سرو کار لری، په پښتنو کی ډېر کم نفوذ لري. د پښتنو ربابیانو او سندرغاړو د خپل مسلک د درنولو، د اجتماعی ارزښت د زیاتولو او حتی هغه ته د یوه مذهبی رنګ د ورکولو د پاره دې ته ضرورت درلود چې هغه ته یو دروند اجتماعی رنګ ورکړی. د پښتنو په اطرافی ټولنه کی، چې زیاتره د خان او مُلا موسسه وه، د ربابیانو د پاره دا غیر ممکنه وه چې رباب د ملا په غیږکی ورکړي، ځکه چې هغه خو ناروا باله. نو دوی د رباب د شرنګولو د پاره د حسن خان مته خیل نازولی او ښایسته زوی انتخاب



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

کړ او د نارینتوب او خانی د نورو ټولو ښو صفتونو سره یې داسی رباب په وړغاوه چې ترهغه وخته یې چا ساری نه وو لیدلی.
د پښتنو ربابیانو او سندر غاړو د هند او پنجاب د ټولنو په خلاف، د لاس نیوي او مریدی دپاره په نیژدې سیمو کی پیران او شیخان نه سوای پیدا کولای. له دوی څخه اجمیر او ډهلي، چې د چشتیه پیرانو لوی مرکزونه وه، ډېری لیری وه، ځکه یې نو د آدم خان قبر جوړ کړ. په هغه قبرکی یې، د مذهب د ټولو اصولو په خلاف، درخانی هم ورسره ښخه کړه. سرته یې ونه ورته ودروله او د تبرک لپاره یې د هغې د لرګیو څخه شهبازونه جوړ کړل، او د همدغو شهبازونو په زور یې نکل ژوندی وساته.
د آدم خان په نکل کی د ده د دوو یارانو بلو او میرو او د آدم خان د سیالانو ترمنځ څو ځله منظوم سوال او جواب کیږی، چې دا پخپله د پښتنو ربابیانو او سندرغاړو کلچر دی او په ملی هینداره کی خو آدم خان ادعا کوی چې د دوی ټوله ډله او ټبر شاعران دي.

متّه خیل مې توریالیان دي
درته وایم دوی له څیلمي شاعران دي
درخو یو وار نظر وکه
چې دا ناست ولاړ مې واړه نوکران دي

شاعران تر اوسه پوري په پښتنو کی د هنرمندانو او سندرغاړو د پاره استعمالیږی. او د مشرقي او جنوبی په کلیو کی تر دې وروستیو وختونو پوری د ربابیانو او سندرغاړو د پاره د شاعرانو کلمه استعمالیده. یو علت به یې ښایی داوي چې په سندره کی به معمولاً استاد او شاګرد سوال او جواب کاوه او خلکو به په ډېره علاقه غوږ ورته نیولی وو. دغه راز به لویو قومونو او کورنیو د خپلو افتخاراتو د بیانولو او مقابل قام او ټبر د کمزوره ښودلو په منظور د سندرغاړو شاعرانو څخه کار اخیستی او زیاتره وختونه به دغه راز سندرغاړي شاعران په ودونو کی سره مخامخ کیدل او یوې خوا د ناوي او بلی به د زوم په طرفداری سندري ویلې اوسوال او جواب به یې سره کاوه.
بالاخره د آدم خان اودرخانی مینی ته ، چې له ټولو پښتني او ټولنیزو اصولو او ارزښتونو په خلاف ده، داسی مقدس رنګ ورکول سوی دی چې وایی د مرګ نه پس آدم خان او درخانی د خپلی ریښتوني مینی د برکته په قبر کی سره یو ځای سول . خلق دا دهغوی د بزرګی او صداقت کرامت ګنی. (طایر ص ۴۱)
په داسی حال کی چې موږ ګورو چې دغه بزرګ سړی د یوه بل سیال له کوزده سوي ښځی سره شپې پر پالنګ تیروي او هغه د خپلی سپینی خولې ستونه ورته کوي او بالاخره یې د میره له کوره تښتوي. خو څرنګه چې ربابیانو او سندرغاړو هغه صادق مین او بزرګ بللی دی نو خلک یې د بزرګی له امله پر هره ګناه باندی سترګي پټوي او د بیلتانه پر داستان باندي یې اوښکي تویوی

## د آدم خان شاعري:

د آدم خان او درخانی نکل د مغول پاچا جلال االدین اکبر زماني ته منسوب دی. په دې حساب به یې عمر د خوشحال خان خټک په وخت کی زیات و کم یوې نیمي پیړی ته رسیدی. هغه منظومې زموږ په لاس کی نسته چې دا نکل یې د پښتنو په حجرو کی خوله پر خوله ګرځولی او له یوي سیمی څخه یې بلی ته انتقال کړی دی او له رباب سره یو ځای یې محفلونه تاوده کړي دي. خو د صدرخان خټک له قوله معلومیږی چې هغه به دغه نکل پخپله په منظوم شکل اوربدلی وي. ځکه چې هغه وایی دا قصه یې له مطربانو، یارانو او قصه خوانانو څخه په رنګ رنګ اوریدلی ده. دا چې ولي خوشحال خټک خپل زوی صدرخان ته په داسی حال کی د دې کیسي د نظم کولو هدایت ورکوی معنی یې دا ده چې د پښتنو په حجرو او بانډو کی یې تر بلی هری کیسي زیات شهرت درلودلی دی.
د دې نکل څخه موږ ته څرګندیږی چې پښتنو، په تیره بیا یوسفزیو ، له ډېری پخوانی زماني څخه د موسیقی او خصوصا له رباب سره ډېره ژوره مینه درلوده. کنه نو د رباب شرنګ دونه افسانوي، دونه خوږ او په ضمن کی دونه دردونکی رنګ نه سو اخیستلای چې د پښتنو پلار خوشحال خان دي خپل زوی صدرخان ته له هغه سره د ترلي نکل د منظومولو توصیه وکړي.
د آدم خان نکل وروسته په غیر منظوم شکل هم د پښتنو مجلسونو او حجرو ته ورغلی دی، خو هر ماهر نکل چې د فوکلوري نکلونو د دود او دستور سره سم ځای پر ځای ناري ورباندي اضافه کړي دي. نکل وخت په وخت دومره خوږ سوی او عام سوی دی چې د صدرخان خټک څخه نیولی بیا تر معاصرو شاعرانو او لیکوالانو پوری ډېرو کسانو هغه ته د یوه ریښتوني تاریخی داستان په سترګه کتلي دي.
مرحوم حبیبی په خپل کتاب پښتانه شعرا کی آدم خان او درخانی دواړه د پښتو ژبی په شاعرانو کی شمیرلي دي. د هغوی د سوځنده مینی داستان یې د ملی هینداري څخه را اخیستی او د کلام نمونی یې هم د هغه کتاب څخه انتخاب کړی دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

آ درخو ملوکي
پر تمام جهان دي ولاړي د نوم کوکي
آدم ستا کتو رنځور کړ
که ور کوزي کړې د دواړو زلفو ځوکي
البته دا ناره په ملی هینداره کی د آدم خان له خولې نه ، بلکه د هغه د مریبی او یار بلو له خولې ده چې غواړي د آدم خان خواته د درخانی توجه را واړوی. بل ځای د آدم خان له خولې درخو ته وایی:
که ګلي درخو ګلي
په وجود د طاووس خان د بڼ بلبلي
مه دی مات سه مړوندونه
مه دي و چې سه ځنګلي
(حبيبي ص ۲۰-۲۱)
البته په ملی هینداره کی د هغه د کتاب د نکل د نورو نارو پر وزن دا ناره په بل ډول ده
مه دي ماتی سه خپري
درته وایم مه دي و چې سه ځنګلی
په څه درب دی ووهلم
تر پیله وربېنم پستي وي ستامنګولي
مرحوم حبیبی په هغه کتاب کی درخانی هم یوه پښتنه شاعره بولي او د هغې له خولې یې هم هغه نارې را نقل کړي دي چې په ملی هینداره کی راغلي دي. خو خبره دا ده چې لومړی خو آدم خان او درخانی په سوات کی ژوند کړی دی او هلته وفات سوي دي. نو شاعري یې په کندهار کی څرنګه کړې ده. ځکه چې د ملی هینداري پر وزن نارې د بلی هیڅ سیمی په نکلونو کی نسته. او هره سیمه د آدم خان او درخانی دپاره جلا جلا نظمونه او نارې لري. د مثال په ډول د ننګرهار نکلونه په کتاب کی موږ د ادم خان او درخانی د خولې بیخی پر بل وزن نارې اورو.
کله چې آدم خان د درخانی د مخ لیدلو ته ډېر بیتابه کیږی نو پر هغې باندی ناره کوی:
پر دابنی مخ دي خال دی که زخه
د دي خان آدم داسی رضا ده
چې دا زر زري لونګی دي لیری که له مخه
او یا بل ځای پر خپلی میرمنی توتیا ناره کوي:
زما توتیا عزت یې وکړه
دغه استازي د درخو درته راغلي
دا درخانی د انځرګل آدم یې ډنډ دی نو
دا چې د نورو سیمو په نکلونو کی به د آدم خان او درخانی نارې څرنګه وي، زه په لاس کی لیکلې څه نه لرم، خو څرنګه چې دا نکل بیحده زیات ډولونه لري او په هره سیمه کی یې خلک په بیل بیل ډول کوي نو زه یقین لرم چې په هره سیمه کی به یې نارې جلا وزن او ډول ولری.
په زړه پوری خبره لا دا ده چې په ملی هینداره کی یوه ناره ، چې آدم خان ته منسوبه ده ، د کندهار د تولوکان د ملاحسن اخوند د یوې مشهوري غزلي مطلع ده. آدم خان پر درخو ناره کوي:
دا چې زما په زړه کي اوري
شیخ یې نه ویني په خاب ملا په توري
هغه ستا د چرګ حال څه سو
نور چرګان دي هم د ده و حال ته ګوري
**د ملا حسن اخوند غزل داسی پیل کیږی.**
هغه چاري چې زما پر خاطر اوري
شیخ یې نه ویني په خواب ملا په توري
چې چنډن لره ورځی خپل سر به بایلي
د افعي مارانو ځای د چنډن سیوري
د حسن زرګی هغو معشوقو یوړ
چې مدام تر پلو لاندي سترګي توري


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

او یو ځای خو آدم خان د احمد شاه بابا د دېوان تر تاثير لاندی لا هم راغلی دی او چې د ليری درخو وينی نو ناره وربلندی کوی.

راغله راغله را روانه

خدايه مې کړې پر دا کړي داد پښيمانه

په ميدان کی به لاس راکړي

درخانی د طاووس لورده پهلوانه

احمد شاه بابا وايي:

چې زما د ولايت فتح روزي سوه

نور ايران لره په توغ په نغاره ځم

پر دا کړي داد دي خدای نه سی پښيمانه

تر نګين مې ايران لاندی شاهانه ځم

د دي معنی دا ده چې د آدم خان نکل ته دا ناري به حتماً د کندهار نکل چيانو ور اچولي وي. خو نکل شپاړسمي پيړی يعني د اکبر پاچا زماني ته منسوب دی. او په هغه زمانه کي په يوسفزيو کي د ننه د قبيلوي بديو او خانيو بيان کوي؛ مګر ناري يې د کندهار د اته لسمي او نولسمي پيړی د شاعرانو کلمات لري.

په هر صورت آدم خان نه په کندهار او نه په ننګرهار کی شاعری کړي ده . که چيری آدم خان ريشتيا موجود وي، او له درخانی سره يې په ريشتيا مينه کړې وي، او په ريشتيا د پښتو ژبې يو شاعر وي نو لږ ترلږه موږ ته يې اواز نه دی را رسيدلی او د استناد دپاره يې پرته له فوکلوري روايتونو بل څه نه دي را پرې ايښی.

## حقيقي عشق:

حقيقي عشق يو تصوفي مفهوم دی چې مطلب يې د مجازي يا ظاهري ميني مقابله ده. صوفيانو له ښکلا او ښکليو سره مينه، د ښکلا ستايني او په ستاينو کې ببحده مبالغي حقيقي مينه بللې او هغې ته يې مقدس رنګ ورکړی دی. د صوفيانو په اصطلاح کې حقيقي مينه له ظاهري ښکليو او ښکلا سره نه بلکه له هغه ذات سره ده چې دا ښکلا يې ايجاد کړې او زموږ د حيرت، ستايني او ميني سبب يې ګرځولی ده.

په فوکلوري افسانو کې، چې زياتره د عوامو د مجلسونو او تنګ ټکور د محفلونو د رنګينولو او تودولو لپاره شپې په تيرېږي، معمولاً د دوو داسي مينانو د ميني موضوع طرح وي چې زياتره او يا ټول چاپيرال ورسره مخالف وي خو دوی له خپل هوډه نه اوړي. دا مينان لکه دلی او شهو، موسی جان او ګل مکی، طالب جان او ګل بشره، ښادي او بيبو، قطب خان او نازو او... يو له بله جلا ژوند نه سي کولای او چې يو مړی سي بل هم ورپسې مري. البته د وفا او ريښتوني ميني په دې ميدان کې برى او بر لاسی معمولا د ښځينه په برخه وي او زياتره ښځي دي چې په مين پسي يې زهره چوي او پسله مرګه لا په قبر کې ورسره يو ځای کيږي. خو د ميني دغه دول داستانونو ته د حقيقي ميني او عشق کيسي نه سو ويلای. دا ميني که هر څومره سوځنده هم وي بيا هم ظاهري او مجازي دي. کله چې ښځه او نارينه پر يوه بل مين سي نو معمولا کوښښ کوي او دا يې آرزو وي چې واده سره وکړي. کله چې د واده کولو موضوع په منځ کې وي، په دې صورت کې د حقيقي او مجازي ميني سوال نه پيدا کيږي.

پروفيسر نواز طاير، چې د ادم خان او دُرخانی د سوځنده ميني د داستان تر اغېزي لاندي راغلی او د ربابيانو سندري يې اورېدلي او د عوامو کيسي يې منلي دي نو د آدم خان او دُرخانی افسانه د حقيقي عشق ښکارندوی بولي.

« ... آدم خان او دُرخانی په خپل عشق کښې تر انتهايي حده صادقان وو. کوم وخت چې آدم خان د پښو نه د دُرخانی د زلفو زولني تاوشوې نو په طوطيا او ګلنازه يې هيڅکله د زړه تاو او تنده نه ماتېده او د دُرخانی زړه چې څه وخت ميرمايي آزار کړو نو په دعا يې ټول خاصي رنځور او برباد کړل. علي خان وايي:

آدم خان چې د دُرخو زلفو پای بند کړو

په غرض يې نه طوطيا وه نه ګلنازه

ميرمايي د دُرخانی آزار زړګی کړو

لا بلا يې شوه په درست هازي خپل سازه

پروفيسرنواز طاير وروسته ليکي« څه وخت چې آدم د دُرخانی د ميني په دام کښې ګرفتار شو نو د ګلنازي ناز او ادا، حسن و ښايست يې د سترګو په وړاندي هيڅ جاذبيت نه لرلو. د ميني جنون چې د چا په سر کښې کور اوکړي نو د خپل معشوق نه ما سوا بل هيڅ ځوک يې هم د خوږ زړه مرهم کېدی نه شي » طاير ص ص ۳۸-۳۹

« حقيقي ميني د آدم خان په ژوند کښي داسي زوروور انقلاب راوستی وو چې د چا په کوته پورته کولو يا په پيغور او زور نه يې هيڅ پروا نه لرله هغه ته د خپلي معشوقي له طرفه دا اذن شوی وو چې:



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de

يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

په تومت مه شرمېږه ياره
په ښو ځوانانو پسي تل وي تومتونه » هغه کتاب هغه مخ

په دې وروستيو پاڼو کي، آدم خان ته د ټولو منسوبو افسانو په خلاف، د ګلنازي نوم هم يادېږي، چې ما يې په بل نکل يا کتاب کي نوم نه دی اورېدلی. داسي ښکاري چې ادم خان پر توتيا برسېره کومه بله ښکلې ښځه هم لري او د هغې ښکلا اوناز ته يې ځکه توجه نه ده کړې چې دی د دُرخانۍ د مينې په اور سوځېدلی دی. خو خبره په دې کي ده چې پروفيسر نواز طاير موږ ته د حقيقي عشق او مينې تعريف نه کوي. احتمال لري چې د ده په خيال حقيقي مينه هغه مينه وي چې يو ځوک يوازې له يوه معشوق يا معشوقې سره عشق ولري او د بل چا مينې ته په زړه کي ځای ورنه کړي. په داسي حال کي چې حقيقي عشق صوفيانه عشق دی او هغه يوازې د خدای تعالی له ذات سره دی. صوفي په دې عشق کي بالاخره دونه غرق سي چې ځان پخپله معشوق ويني او د منصور په څېر د اناالحق ناره پورته کړي. دا هغه عشق دی چې په فوکلوري کيسو او فوکلوري سندرو کي له سره ځکه مطرح نه دی چې د عامو خلکو له پوهې او درک څخه لوړ دی او له اولس سره غمرازي وربانډي کېدلای نه سي.
که له پروفيسر نواز طاير سره دا خبره ومنو چې آدم خان له دُرخانۍ سره حقيقي او مقدسه مينه درلوده نو ځوک چې په زړه کي حقيقي او مقدسه مينه لري او د دې مينې له برکته يې دونه روحاني زور پيدا کړی وي چې په ښرا يې د ميرمامي په ټول ټبر اور لګيږي نو هغه د پرديو خلکو له ښځو سره پر پالنګ باندي شپې نه سبا کوي. بلکه د نامحرمي ښځې مخ ته نه ګوري. که د پروفيسر نواز طاير دا قول، يا د آدم خان له پاکۍ او پاکي مينې څخه دفاع، ومنو چې دُرخانۍ پاياو خان ته په نکاح سوې نه وه بلکه د هغې د خوښي په خلاف د هغه په نامه سوې وه نو آدم خان ته خو هم په نکاح سوې نه وه او هغه ته هم دا حق حاصل نه وو چې له نکاح څخه مخکي پر پالنګ باندي شپې ورسره سبا کړي او دُرخانۍ د سپيني خولې ستونه ورته وکړي. د دُرخانۍ له مېړه، يا د پروفيسر نواز طاير په قول، چنغلي يا نامزد سره دي د تورو د جنګ ميدان ته ووزي؛ بېګناه خلک دي مړه کړي او بالاخره دي، په دې ناروا جنګ کي، پخپله هم ووژل سي.
دا يوازې ربابيان دي چې خپل خان ته يې د مړاني، ښايست، سخاوت او د پاکي مينې له برکته، د ولايت مقام هم ور بخښلی او د اوو وليانو مرتبه يې ورکړې ده. که څه هم چې د نکل په منځ کي له ربابيانو څخه حال ويل کيږي او موږ ته وايي چې آدم خان د دوی انډيوال او په رنګ تور سړی دی:
که توره آدمه توره
چندڼی رباب دي مه وهه په زوره
چې ستا د رباب ږغ سي
په دُرخو مي اور لګيږي لور د لوره
د آدم خان او دُرخانۍ نکل، د زياترو فوکلوري نکلونو په خلاف، د زمان او مکان په قيد کي ايجاد سوی دی. هم د آدم خان او درخانۍ د قومونو او د اوسېدلو د ځای خبره کوي او هم راته وايي چې هغوی د جلال الدين اکبر په زمانه کي ژوند کاوه. خو د پښتنو، په تېره بيا يوسفزيو د قبيلې، د رسم او رواج يکي يو اړخ يې هم سم نه دی معرفي کړی. که ځوک د دغه نکل په اساس د يوسفزيو ژوند، کلتور او رسم و رواج ته نظر کوي او يا دې نکل ته په جدي سترګه کوري نو د تحليل او تحقيق په هره برخه کي جلا جلا ګمراه کيږي.

ماءخذونه


۱: طاير، پروفيسر محمد نواز. آدم دُرخانۍ. پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسيټي.۱۹۸۱
۲: نوري، محمدګل. ملي هينداره. علامه رشاد خپرندويه ټولنه. کندهار ۲۰۰۸
۳: محمدحيات خان، ډيپټي کميشنر. حيات افغاني. ژباړونکي. محمدفرهاد ظريفي او محقق عبدالطيف ياد طالبي. دانش خپرندويه ټولنه. کابل دوهم چاپ ۲۰۰۷
۴: اعظم، انيتا. پشتون معاشرې پر پشتو کې منظوم رومانون کې اثرات. پشتو اکاډيمي پشاور يونيورسيټي. ۲۰۰۷
۵: خاوري، غوټۍ. د ننګرهار نکلونه. د کابل د علومو اکاډيمي.
6: Zainab, Ghulam Abbas. Folktales of Pakistan.
7: Elphinstone, Mounstuart. An Account of the Kingdom of Caubul Vol 1. Reprinted 1974 Pakistan.
8: Raverty, Captain H.G. A Grammar of the Pukhto, Pushto or Language of the Afghans. Reprinted New Delhi 2001.
9: Bellew, H.W. A General Report on the Yusafzais. Reprinted Pakistan 1994.


پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ